# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۴۰۰ د وري ۲۳مه | د ۲۰۲۱ د اپریل ۱۲مه | ۷۰۷مه ګڼه


## کاروبار

۴ مخ

### وال مارت

وال مارت شرکت په نړۍ کې ۸۵۰۰ څانګې لري، یادې څانګې د نړۍ په ۱۵ هېوادونو کې فعالې دي او یاد شرکت د امریکا متحده ایالاتو په پنځوسو ایالتونو کې په همدې نوم فعالیت کوي.




### په افغانستان کې د شیدو کلنی تولید څه باندې ۲ میلیونو ټنو ته رسېدلی



د افغانستان د کرنې او مالدارۍ وزارت وايي، په تېر ۱۳۹۹ کال کې په ټول هیواد کې نږدې ۲ میلیونه او ۱۸۰ زره ټنه شیدې تولید شوې دي.

د یاد وزارت ویاند اکبر رستمي وايي، فاریاب، بغلان، تخار، میدان وردګ، هرات، بلخ، کندهار، کندوز او سمنګان له هغو ولایتونو څخه دي، چې ډېرې شیدې پکې تولید شوې دي.

له دې ډلې څخه په فاریاب کې ۲۰۰، بغلان کې ۱۴۸ او تخار کې ۱۸۲ ټنه شیدې تولید شوې، چې تر نورو ولایتونو مخکې دي.

ښاغلي رستمي زیاته کړې چې د یاد وزارت د راپورونو له مخې، اوسمهال په افغانستان کې د غواوو ۸۱۹ فارمونه شته، چې زیاتې شیدې له همدې فارمونو څخه تر لاسه کیږي.

د هغه په خبره، افغانستان هر کال ۲،۹ میلیونو ټنو شیدو ته اړتیا لري، چې اوسمهال نږدې یو میلیون شیدې له بهر څخه افغانستان ته واردیږي.

# د ترکیې کنفرانس اصولنامه؛

## مشارکتي حکومت، دایمي اوربند او د جګړې نه تکرار یې مهمې برخې دي



۳

### جمهوریت غونډې نه؛ عمل غواړي

۲ مخ

### سوله ییزه اتومي انرژي او پرمختللي هېوادونه

۲ مخ

### پر خلکو مهربانه اوسېدل ځانګړی حس لري

۵ مخ

### د مصالحې عالي شورا: د سولې طرحې مسوده بشپړه او رهبرۍ شورا ته سپارل شوې

د افغانستان د روغې جوړې عالي شورا وايي، چې ځانګړې کمېټې یې د سولې طرحې مسوده له خپل لوري وروستۍ کړې او ورسپارلې یې ده.

د دغې شورا ویاند فریدون خوځون وايي، د طرحو د خېړلو په تړاو د کمېټې غړو پرون د طرحو د توحید او نظرونو ارزولو د بهیر تر پای ته رسېدو وروسته د سولې اړوند طرحې مسوده په سپېدار ماڼۍ کې د مصالحې شورا مشر عبدالله عبدالله ته وسپارله.

د ملي مصالحې شورا وايي، ځانګړې کمېټې په وروستۍ ناسته کې هم د طرحې د مسودې پر محتوا بیا کره کتنه کړې.

د ښاغلي خوځون په وینا، په څو ورځو کې به تسلیم شوې مسوده د شورا «رهبرۍ کمېټې ته وړاندې شي او تر پرېکړې وروسته به د افغانستان د اسلامي جمهوریت واحد سند وي چې د ترکیې ناستې ته به وړاندې شي.» د روغې جوړې عالي شورا مرستیال، حاجي دین محمد چې ورمه ورځ یې له امریکایي استازي زلمي خلیلزاد سره ناسته کې ګډون درلود، ویلي چې د ښاغلي خلیلزاد ډېر ټینګار پر دې و، چې د ترکیې د ناستې لپاره دوی ژر تر ژره خپله طرحه بشپړه کړي. د دغې شورا په وینا، طرحه کې په ټولیز ډول د افغانستان اسلامي جمهوریت، د افغانانو پر بنسټیزو او اساسي حقونو، د بشر حقونو، د رایو له لارې د یوه کس پر ټاکنو، په نظام کې د ټولو پر عادلانه او معناداره ګډون، په هېواد کې د تاوتریخوالي او جنګ پر ختمېدو او د سولې هوکړې د پلي کولو په برخه کې د سیمې او نړۍ پر قوي ضمانت ټینګار شوی. سپارل شوې طرحه د بېلابېلو لوریو او ګوندونو د څه باندې دېرشو طرحو او نظرونو د څېړلو په پایله کې تدوین شوې ده.

### د ټاکنو خپلواک کمیسیون: د ټاکنو لګښتونه ۵۰سلنه کمېږي



۵ مخ

### کمیسیون حقوق بشر: یک زن و یک کودک در اثر اصابت هاوان در خوست کشته شده اند




کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان می گوید یک زن و یک کودک در نتیجۀ اصابت مرمی هاوان نیروهای افغان در ولسوالی صبری ولایت خوست کشته شده اند.

ذبیح‌الله فرهنگ سخنگوی این کمیسیون روز شنبی در پیام ارسالی به رسانه‌ها گفت که در این رویداد شش تن به شمول یک زن و یک کودک نیز زخمی شده اند.

او افزود: «هر دو طرف باید به خواست جمعی مردم افغانستان احترام بگذارند و آتش‌بس اعلام کنند. از جانب دیگر از دولت افغانستان می‌خواهیم در حافظت از مردم، حقیقت‌یابی و اجرای عدالت پیشگام شود.»

این کمیسیون در مورد زمان وقوع این رویداد چیزی نگفته. نیروهای امنیتی خوست نیز در مورد تلفات افراد ملکی توضیح نداده اند، ولی مدتی قبل در اعلامیه‌ای گفته بودند که عملیات در ولسوالی صبری ۲۷ حوت آغاز شده بود.

در هفته گذشته، ریاست امنیت ملی افغانستان اعلام کرد که برخی اعضای شبکه حقانی را در جریان عملیات در ولسوالی‌های صبری، باک و زازی میدان ولایت خوست به قتل رسانیده است.




Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

کتاب مو د ژوند ملګری کړئ

کابل دریمه ناحیه، دجمهوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

Aksos Book Store

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

## سرلیکنه

# جمهوریت غونډې نه؛ عمل غواړي

په دې ورځو کې په کابل او ځینو ولایتونو کې یو ځل بیا د جمهوریت د ملاتړ تر نامه لاندې د حکومت په ملاتړ غونډې جوړېږي. په دې غونډو کې چې د حکومتي چارواکو او د حکومت د سیاسي ملاتړو لخوا جوړېږي، د سولې په پروسه کې د حکومت د دریځ ملاتړ کېږي. ډېری داسې غونډو ته مخامخ حکومتي چارواکي هم ورځي او وېناوې پکې کوي. ویل کېږي چې دا غونډې د حکومت په مالي لګښت جوړېږي، خو معلومه نه ده چې پیسې یې د حکومت کومه اداره او د کوم پروسیجر له مخې ورکوي.

د جمهوریت ملاتړ او یا هم د بل سیاسي فکر لرل او د دې لپاره غونډه او یا بل قانوني فعالیت هېڅ ډول ستونزه نه لري او دا د هر افغان حق دی. خو په دې وروستیو کې چې کومې غونډې جوړېږي، په اړه یې جدي پوښتنې او اندېښنې شته. لومړۍ پوښتنه دا ده چې ولې حکومت او جمهوریت سره ګډ شي!؟ له بده مرغه دا غونډې د جمهوریت د ملاتړ په نوم له حکومت او بیا په ځانګړي ډول له یوه کوچني واکمن ټیم څخه ملاتړ دی. دویمه ستونزه د دې غونډو مالي لګښت دی. ولې باید حکومت د داسې غونډو لګښت ورکړي؟ دا لګښت له کومه کېږي او د حکومت کومه اداره، د کوم قانون پر اساس حق لري چې د افغانستان د خلکو مالیه او نوره حکومتي بودیجه په داسې غونډو ولګوي!؟ دریمه ستونزه دا ده ځوک چې خپله جمهوریت مسخره کړي، تر پښو لاندې یې کړي او هر کار یې د جمهوریت مخالف وي، څنګه د جمهوریت غږ پورته کولی شي؟!

تر دې مهمه او اساسي خبره دا ده چې جمهوریت یوازې چیغې او نمایشي کارونه نه دي؛ بلکې یو عمل دی. حکومتي چارواکي د دې پر ځای چې له جمهوریت څخه د ملاتړ غونډې جوړې کړي او لویه دولتي بودیجه پرې ولګوي، غوره ده چې په خپلو کارونو سره جمهوریت تمثیل کړي، دوی باید وښیي چې خپله د جمهوریت ارزښتونو ته ژمن دي او خلک، د خلکو اراده، غوښتنې او ارزښتونه ورته مهم دي.

له بده مرغه حکومتي چارواکي په داسې حال کې نمایشي کارونه کوي او دولتي بودیجه پرې لګوي چې خلک له سختو ستونزو سره مخ دي، په حکومت کې فساد په خلکو خولې لګوي، د ارګ په شاوخوا کې سړکونه کنډوکپر دي، د کابل ښار په دولتي ښوونځیو کې د زرګونو ښوونکو کمی دی او سلګونه زره شاګردان بې ښوونکو دي، د ډېرو ادارو قراردادي کارکوونکو په میاشتو میاشتو معاش نه دی اخیستی، د لوړې کچه په بې ساري ډول ډېره شوې ده، بې کارۍ غوغا جوړه کړې او ستونزې خورا ډېرې دي. په همدې وخت کې حکومتي چارواکي د جمهوریت ننداړې وړاندې کوي، دولتي بودیجه پرې لګوي، د سولې پر وړاندې خنډونه جوړوي او عامه ذهنیتونه خرابوي.

حکومتي چارواکو ته پکار ده چې نور د خلکو په سترګو کې د خاورو شیندل پرېږدي. جمهوریت د خلکو نظام دی، که یې خلک غواړي، نو خپله به ترې دفاع کوي او په دې اړه د حکومت هڅو او پیسو ته اړتیا نشته. چارواکي باید خپلو اصلي دندو ته پام وکړي، د خلکو جمهوري حقونه ورکړي او ستونزې حل کړي. د سولې د تخریب لپاره نمایشي کارونه به د ارګ واکمن پیاوړي نه کړي؛ بلکې لا به یې له پښو وغورځوي. له همدې امله نور باید دا ننداره ودرول شي.

# سوله ییزه اتومي انرژي او پرمختللي هېوادونه

عبدالله لغمانی

په دې وروستیو وختونو کې مالي بحرانونو او ساري ناروغیو نړیوال اقتصاد ته ډېر زیان اړولی دی. حتی پرمختللي هېوادونه لا نه شي کولی په بشپړ ډول له دې بحران څخه روغ ووځي او ور اوښتي تاوانونه جبران کړي. همدارنګه دا وضعیت د بین المللي سیاسي او ټولنیزو کړکیچونو له امله لا پسې خراب او بدتر شوی دی. د نړۍ د هېوادونو ترمنځ جهاني همکاري او همغږي تر بل هر وخت په ناسم وضعیت کې قرار لري؛ اوږدمهاله اړیکې او شراکتونه تر ډېره محکم نه پاتې کېږي. نو له ستونزو څخه د وتلو لپاره اقتصادي کارپوهان وایي چې د وضعیت د خوندي کولو لپاره هېوادونو ته اقتصادي ځان بسیاینه او پر ځان متکي کېدل تر بل هر وخت ډېره زیاته او مهمه اړتیا ده او د دې د تضمین یوه عمده لاره (د اتومي انرژۍ په برخه کې پرمختګ) کېدلی شي. ګټونکي به هغه هېوادونه وي چې ځواکمنه، ارزانه، پرېمانه او خپلواکه انرژي لاسته راوړي او یا د داسې انرژي تولیدوونکي وي.

مخکې له دې چې اصلي موضوع ته راشو، باید اتومي انرژي تعریف کړو او په دې وپوهېږو چې څه ډول له اتومي انرژۍ او اتومي برېښناکوټونو څخه انرژي لاس ته راځي.

د سوله ییزې اتومي ټکنالوژۍ تر ټولو پېژندل شوې ځانګه د اتومي انرژۍ او یا هم د اتومي برېښنا تولید دی. اتومي انرژي د یورانیمو هستې له چاودنې څخه رامنځته کېږي. د چاودنې دې تعامل ته اتومي انشقاق ویل کېږي.

د انشقاق په ترځ کې رامنځته شوې تودوخه په اتومي بټۍ کې اوبه تودوي او بیا دا اوبه د لوړې تودوخې له امله په بخار اوړي. دا بخار بیا د برېښنا ټربین (توربین) او ټربین بیا پخپل وار سره د برېښنا تولیدوونکي یا جنرېټر ګرځوي.

د تېلو او سکرو په مرسته مشهوره حرارتي برېښنا هم کټ مټ په همدې میکانېزم تولیدېږي، خو یوازینی توپیر یې دا دی چې اتومي بټۍ د اوبو تودولو او په بخار اړولو لپاره د اتومي انشقاق انرژي کاروي، خو حرارتي برېښنا بیا د اوبو تودولو او په بخار اړولو لپاره له تېلو او سکرو څخه کار اخلي.

د اتومي بټۍ امنیتي او مصوونیتي تدابیر د حرارتي هغې په پرتله ځکه ډېر زیات دي، چې اتومي بټۍ د پلوټونیمو په شان نور راډیو اکټیف پاتې شوني لري او دا چاره چاپېریال او وګړو ته ډېر روغتیایي خطرونه را منځته کولای شي.

یورانیم په طبیعت کې بېلابېل ډولونه یا بېلابېل ایزوټوپونه لري، چې یوازې یورانیم ۲۳۵ یې د انشقاق او اتومي انرژۍ د تولید وړتیا لري. په طبیعت کې د ټولو شته یورانیمو له منځه یوازې صفر اعشاره اووه سلنه یې یورانیم ۲۳۵ دي.

د اتومي انرژۍ په برخه کې د نړۍ ټول پرمختللي هېوادونه هڅه کوي، چې د فوسیلي انرژۍ پر ځای اتومي انرژي ته وده ورکړي، د اتومي انرژۍ بټۍ جوړې کړي او ځانونه پر دې انرژۍ باندې متکي کړي او همدارنګه یې د خپلو شرکتونو او ساینسپوهانو په مرسته په نورو هغو هېوادونو کې چې غواړي د اتومي انرژۍ په برخه کې خپلې اړتیاوې رفع کړي او یا په دې برخه کې ستونزې او اړتیاوې لري، د پیسو په مقابل کې اتومي برېښناکوټونه او اتومي بټۍ ورته جوړ کړي .

اتومي انرژي له هرې بلې انرژۍ څخه قوي، دوامداره، ډاډمنه او پاکه ده. که څه هم په دې برخه کې ځینې سیاسي ستونزې شته، د بېلګې په ډول، زبرځواکونه په ځانګړي ډول امریکا د ملګرو ملتونو په اډانه کې په هغو هېوادونو چې د اتومي انرژۍ په برخه کې هڅې کوي او یا غواړي چې په خپل سر د اتومي انرژۍ په برخه کې یې کارونه پیل کړي، ستونزې ورته جوړوي، تر اقتصادي بندیزونو لاندې یې نیسي او په یو نه یو ډول د دې هېوادونو د خپل سري کار مخه نیسي. نړیوالو ته دا فکر ورکوي چې ګویا یاد هېوادونه هڅه کوي چې د اتومي وسلو د جوړولو لپاره ابتدایي لارې چارې جوړې کړي او یا (د نړیوال امنیت لپاره د خطر) ډنډوره پسې غږوي.

له ټولو مخکې به د اتومي انرژۍ په برخه کې په مخکښو هېوادونو لکه: روسیې، امریکا، چین، جاپان، سویلي کوریا، فرانسې، کاناډا او نورو نظر واچوو او د اتومي انرژۍ په برخه کې د دوی پر هڅو، تولید او اتومي برېښناکوټونو او د اتومي انرژۍ پر بټیو به وغږېږو.

په پیل کې به د اتومي انرژۍ او اتومي برېښناکوټونو په برخه کې د روسیې پر کردار خبرې وکړو، چې په نړۍ کې په دې برخه کې یو مهم لوبغاړی دی او پر خپل هېواد سربېره یې د نړۍ په ځینو هېوادونو کې د هغو هېوادونو په غوښتنه د اتومي انرژۍ برېښناکوټونه جوړ کړي دي او ځینې یې لا د جوړولو په حال کې دي.

د روسیې فدراسیون سره له دې چې اوسمهال له نړیوالو بندیزونو او فشارونو سره مخ دی؛ خو لا هم په دې برخه کې پانګونې کوي او پر خپل هېواد سربېره په بهر کې د خپلو اتومي انرژیو پروژو ته وده ورکولو کې د نړۍ د مخکښو هېوادونو په ډله کې راځي.

روسیه د ROSATOM په نوم کمپنۍ په خپل هېواد او نړۍ کې د سوله ییزې اتومي انرژۍ او اتومي برېښناکوټونو د جوړولو او پراخولو په برخه کې فعاله کړې، چې اوسمهال د نړۍ له پنځوسو څخه ډېر هېوادونه د ROSATOM روسیې اتومي خدمات کاروي او په اروپا کې په دې برخه کې لومړنۍ ستر شرکت دی. له مالي بحرانونو سره سره روسیه په بهر کې د اتومي انرژۍ کارخونو په جوړولو کې په نړۍ کې لومړۍ راغلې. روسي متخصصینو ۳۸ ریکټرونه (بټۍ) جوړې کړي او یا تر کار لاندې دي، چې ټولټال ۲۸.۵GW برېښنا تولیدوي او دوه تر ټولو ستر ستر اتومي برېښناکوټونه یې د( Kursk II 1-II and Kursk ۲- ) په نامه اوسمهال تر کار لاندې دي، چې په یوازې سر ۲.۳GW برېښنا تولیدوي. د روسیې اتوم یا د اتومي انرژۍ برخه د روسي شرکت د کار جغرافیه منځنی ختیځ، آسیا، د افریقا لویه وچه او اروپا پوښي.

د اتومي انرژۍ په برخه کې د روسیې خدمات د ارزونې، نسبي ارزونې، اعتبار او مصوونیت له پلوه په ډېره ښه درجه کې راځي او د کار د دوام له پلوه هم بیخي ښه اغېزمن دي.

نن سبا په سوله ییز ډول اتومي انرژي تر بل هر وخت د نړۍ د هېوادونو ډېره اړینه اړتیا ده، چې د انرژۍ د تر لاسه کولو لپاره باید لاسرسی ورته ولري.

د روسیې اتوم د اتومي انرژۍ په برخه کې هغو هېوادونو ته چې دوی اتومي بټۍ ورته جوړوي، له مسلکي کسانو سره د تجربو په شریکولو، د ځایي پرسونل په روزنه او په خپله د برېښنا د نویو تاسیساتو د عملیاتي ملاتړ په برخه کې هم کار او مشورې ورکوي او هم مسلکي پرسونل ورته روزي. د روسیې اټوم د نړۍ بېلابېلو هیوادونو ته ټول هغه ماشینونه او کارخونې لومړی په خپله د روسیې فدراسیون په خاوره کې ازمویي، چې فعالیت یې ښه و او بیا یې په هغو هېوادونو کې چې له دوی یې د بټیو غوښتنه کړې، نصبوي. دوی دا کار د دې لپاره کوي چې خپل لا ډېر مشتریان پیدا کړي او په دې برخه کې له سیالو هېوادونو څخه میدان ونیسي او دا یې د کیفیت غوره ثبوت هم دی.

د بېلګې په توګه، د روسیې اتومي شرکت یو مهم پراجیکټ چې په ترکیه کې یې تر کار لاندې دی، د Akkuyu Nuclear Power Plant نومېږي، چې په ۲۰۲۳ کال کې به د ۲۰ میلیاردو ډالرو په لګښت د روس اتوم لخوا جوړ شي او دا به د ترکیې لومړنی اتومي برېښناکوټ وي، چې د ټولو څلورو واړو واحدونو په بشپړېدو سره به ۴.۸ GW برېښنا برابروي او د اتومي انرژۍ د کار کولو عمر او ګېرنټي به یې تر ۶۰ کلونو څخه ډېره وي.

د روسیې اتومي شرکت لخوا په هند کې د Kudankulam Nuclear Power Plant بټۍ، په ایران کې د بوشهر دوې د اتومي انرژۍ بټۍ، په چین کې د Tianwan او Xudabao اتومي بټۍ او په بنګله‌دیش کې د Rooppur اتومي برېښناکوټونه تر کار لاندې دي او پر دې سربېره په مصر، ترکیه، ویتنام، بیلاروس او داسې نورو هېوادونو کې هم اتومي برېښناکوټونه د جوړولو په حال کې دي.

د روس اټوم کمپنۍ د اتومي انرژۍ د بټیو د جوړولو ټول عواید شاوخوا ۱۳۳ میلیاردو ډالرو څخه ډېر دي او د راتلونکې یوې لسیزې لپاره په نړۍ کې د اتومي بټیو د جوړولو قراردادونه یې اخیستي دي. د جاپاني اتومي برېښنا کارخونې «فوکوشیما» کې له حادثې وروسته د روسیې د اتومي انرژۍ پر کار باندې د نړۍ د هېوادونو باور ډېر شو او په دې برخه کې یې د کار له پلوه تر نورو خوندي کمپنۍ وبلله.

سره له دې چې روسیه په نوره نړۍ کې د اتومي انرژۍ د برېښناکوټونو د جوړولو په حال کې ده، خو په خپل هېواد کې یې هم د ۱۰ په شاوخوا کې د اتومي انرژۍ په برخه کې بټۍ د جوړولو په حال کې دي، چې په راتلونکو کلونو کې به یې ګټې اخیستنې ته وسپاري. شرکت یې ادعا کوي چې د نوې ټکنالوژۍ په مرسته به د راډیو اکټیو مضرو وړانګو د کمولو اندازه هم تقریباً صفر ته راټیټه کړي.

نن سبا روسیه ډېر زیات فوکس د اتومي انرژۍ او د نړۍ په هېوادونو کې د اتومي انرژۍ د سټېشنونو په جوړولو کوي او دا یې د خپل هېواد په اقتصادي وده کې د پام وړ تاثیر لري او له دې لارې ډېر زیات عواید لاس ته راوړي.

په روسیه کې د شوروي له وخته د اتومي انرژۍ او اتومي برېښناکوټونو د جوړولو په برخه کې جدي کار پیل شوی و او همداسې په پوره جدیت سره لا تر اوسه روان دی. روسیې د اتومي انرژۍ لومړنۍ بټۍ د دې هېواد په اوبنینسک ښار کې جوړه کړه، چې په ریکارډ تېز وخت یانې یوازې ۴ کلونو کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه. دا پروژه د ایګور واسیلیوویچ کورچاتوف لخوا رهبري کېدله چې نړۍ به د اتومي بم د پلار په نامه یاداوه؛ خو په دې کار سره په تدریج سره د اتومي سوله ییزې انرژۍ د پلار په نامه وپېژندل شو.

که څه هم د روسیې سیالان لکه فرانسه، جاپان، جنوبي کوریا او نور هېوادونه هڅه کوي چې د اتومي انرژۍ په برخه کې ورڅخه د نړۍ بازارونه ونیسي او له هېوادونو سره دا ډول قراردادونه لاسلیک کړي؛ خو تر اوسه یې یو هم نه دی بریالی شوی.

که څه هم په اروپا کې د اتومي انرژۍ په برخه کې فرانسوی شرکت lectricité de France S.A په اروپا کې لومړی او تر ټولو ستر شرکت ګڼل کېږي؛ خو نن سبا له سخت بحران سره مخ دی، اداره یې خرابه شوې، عاید یې د سقوط په حال کې دي، د بانکونو قرضدار دی او معلومېږي چې ښه راتلونکې نه لري.

د Orano SA په نامه شرکت چې د lectricité de France عمومي شرکت دی، په فنلېنډ هېواد کې یې د Olkiluoto Nuclear Power Plant اتومي برېښناکوټ چې کلونه پخوا یې پیل کړی، دریم واحد لا تر اوسه سرته نه دی رسولی.

ساختماني کار یې له ۲۰۰۵ کال راهیسې روان دی او له هغه وخت راهیسې د کار لګښت یې له ۳.۲ میلیاردو یورو څخه ۸.۵ میلیاردو یورو ته لوړ شو او په اروپا کې د اتومي انرژۍ تر ټولو اوږدمهالې اتومي بټۍ ده، چې بشپړېدو یې ډېر زیات وخت ونیو.

ستونزې یې ډېرې زیاتې دي، ټیټ کیفیته تجهیزات او د مسلکي کسانو نشتون یې لوی مشکلات دي. د کار د تجربې په برخه کې دوی د نړۍ د بېلابېلو سیمو لپاره ساینسپوهان، اینجنیران او کارګران نه لري. پخواني هغه تقاعد کېږي او پر ځای یې هغسې مسلکي او تکړه کسان نه ګومارل کېږي، چې د دوی ځای ونیسي. د فنلېنډ اولکیلوټو اتومي انرژي بټۍ باید د نوي جنرېشن رییکټر (EPR-۱۶۰۰) سره تقویت شي. دا رییکټر په پراخه کچه خورا معتبر او اغېزمن رییکټر دی، چې خورا مهم او کارنده ثابت شوی دی.

یاد شرکت په امریکا، هند، کاناډا او برېټانیا کې هم له ورته مشکلاتو او ستونزو سره مخ دی.

همدارنګه یې په ۲۰۰۷ کال کې له جاپاني کمپنۍ میتسوبیشي Heave Industries MHI)) سره په جاپان کې پانګونه وکړه او د اتومي انرژۍ هغه بټۍ چې دوی جوړوله، د رییکټر د III + نسل څخه وه او نوم یې ATMEA -۱ و. که څه هم د جوړښت له پلوه له روسي اتومي انرژۍ له بټۍ VVER-۱۲۰۰ سره یې ورته والی درلود، ډیزاین او لومړنۍ چارې یې په ۲۰۱۵ کال کې پای ته ورسېدلې، خو لا یې هم عملي کار نه دی پیل شوی او هماغسې یې نقشې د کاغذ پرمخ پرتې دي.

همدارنګه د دې فرانسوي شرکت پر وړاندې د فساد او غبن خبرې هم راپورته شوې؛ په ۲۰۱۱ کال کې د فرانسې لوېې څارنوالۍ ځینې داسې اسناد وموندل، چې د یاد شرکت په اړه پکې د فساد او غلا خبرې شوې وې، چې په نایجیریا کې ترسره شوې وې او بیا یې (اریوا Areva) چې د دې اتومي شرکت لنډ نوم دی، په نورو کمپنیو وپلوره او معلومه شوه چې د Areva رییس ۱۰۰ میلیونه ډالر فساد کړی و.

همدارنګه امریکایي شرکت Westinghouse Electric Company LLC چې د اتومي انرژۍ د برېښناکوټونو په برخه کې فعالیت کوي، فعالیت هم چندان ښه نه دی. له ۱۹۹۹ کال راهیسې چې د دې شرکت بنسټ اېښودل شوی دی او په یو پراخ او اوږد پلان جوړ شوی و، خو کله یې چې په ۱۹۹۹ کال کې د III + نسل اتومي ریکټرونه د AP-۶۰۰ په نامه د جوړولو اعلان او پراخ تبلیغات یې ورته وکړل؛ خو لا تر اوسه یې د دې ډول کوم ماډل نه دی جوړ کړی. سره له دې چې له دې وروسته یې د AP-۱۰۰۰ لپاره هم لا تبلیغات کول. په داسې حال کې چې مخکینی پلان یې لا عملي کړی نه و.

په ۲۰۰۴ کال کې امریکا د خپلو پراخو تبلیغاتو او هم د سیاسي او ډیپلوماټیکو فشارونو په نتیجه کې چین دې ته وهڅاوه، چې له امریکا څخه په دې برخه کې مرسته وغواړي او اتومي برېښناکوټونه ورته جوړ کړي؛ خو وروسته وروسته معلومه شوه چې د دوی د اتومي برېښناکوټونو محافظت ضعیف، ساتنه یې ستونزمنه، تجهیزات او قطعات یې کم کیفیته دي.

همدارنګه بیا امریکا هڅه وکړه چې پر هند، چک جمهوریت او بلغاریا باندې د اتومي برېښناکوټونو ځینې تجهیزات وپلوري؛ خو دا چې هغو سیمو ته مخکې له مخکې برېټانویانو سترګې خښې کړې وې، په خپل منځ کې یې په دې برخه کې یو پر بل انتقادونه پیل کړل.

په ۲۰۱۴ کال کې اوکراین چې له داخلي کشمکش او کورنیو ستونزو سره مخ و، ویې غوښتل چې امریکا یې په هېواد کې د اتومي انرژۍ په برخه کې پانګونه وکړي او د اتومي انرژۍ بټۍ ورته جوړې کړي؛ خو دا چې مخکې له دې په اوکراین کې د روسیې اتومي ریکټرونو کار کاوه، دا کار د دواړو هېوادونو د اړیکو د خرابېدو لامل شو او د کارپوهانو د وینا له مخې، د امریکا دا هڅه یوه ناسمه او مشکل جوړوونکې کار و.

نن سبا د وسټینګهاوس نړیوالې پروژې په ابهام او نامعلوم حالت کې قرار لري او په ۲۰۱۷ کال کې دا کمپنۍ دېوالي شوه.

خلاصه دا چې نن سبا د دنیا په اقتصاد او سیاست کې انرژي او د هغه منابع تر ټولو مهم رول لري او هغه هېوادونه چې د انرژۍ سرچینې له یو بل سره شریکوي، تر ټولو ښه ملګرتیا سره کوي او په نړۍ کې د نړیوالو تر منځ تر بل هرڅه اقتصادي ګټې مهمې او اقتصادي ملګرتیا تر بل هرڅه ډېر رول لري او د اوږدمهالې او تلپاتې ملګرتیا فلسفه نوره نه چلېږي او هغه هېوادونه د یو بل ښه ملګري دي چې پر نورو چارو سربېره د انرژۍ په برخه کې د یو بل اړتیا ورپوره کوي.

# د ترکیې کنفرانس اصولنامه؛

## مشارکتي حکومت، دایمي اوربند او د جګړې نه تکرار یې مهمې برخې دي

د ترکیې کنفرانس په درشل کې رسنیو د دغه کنفرانس اصولنامې ته لاسرسی پیدا کړی دی. رسنیو ته په رسېدلو معلوماتو کې راغلي، چې دواړه لوري به په افغانستان کې د جګړې د کمولو لپاره یوه توافق ته سره رسېږي، د انتقالي حکومت لپاره به زمینه برابرېږي، ګاونډیو، سیمې او نړۍ ته به له افغانستان کوم ګواښ نه جوړېږي او د سولې تر هوکړې وروسته به د احتمالي جګړې مخنیوی کېږي. دغه اصولنامه ټولټال نهه مادې لري چې د ملګرو ملتونو، امریکا او نورو جهتونو له لوري طالبانو او افغان حکومت ته وړاندیز شوې دي. طالبانو او حکومت تر اوسه په دې اړه رسماً څه نه دي ویلي.

سره له دې چې افغان حکومت د سولې په تړاو د هرې بهرنۍ طرحې له جوړېدو سره مخالفت کوي، خو امریکا او نورو بهرنیو اړخونو تازه له افغان حکومت او طالبانو سره د سولې د راتلونکې ناستې جزیات او اصولنامه شریک کړي دي. طلوع نیوز ته په رسېدلو اسنادو کې راغلي چې امریکا، افغان حکومت او طالبانو ته د ترکیې د کنفرانس اصولنامه سپارلې، چې نهه مادې لري او په هغه کې د افغانستان د راتلونکې په تړاو مهم مسایل راغلي دي. د دغه اصولنامې پر بنسټ، د افغانستان ټول اوسېدونکي او فرهنګي رنګارنګیو ته د قوت په سترګه کتل شوي دي. له دواړو لورو غوښتل شوي چې جګړې ودروي او د اوربند لپاره زمینه برابره کړي او د افغانانو د سولې غوښتنې ته باید درناوی وشي. دواړه لوري ژمن دي چې د یو بل له تورنولو پرته د سولې، ثبات او پرمختګ او مستقل افغانستان د جوړولو لپاره به کار کوي.

په دې اصولنامه کې دغه راز د یوه مشارکتي حکومت پر رامنځ ته کولو هم ټینګار شوی دی. سرچینه کاږي چې دواړه لوري د ټولو اړخونو لپاره د منلو وړ انتقالي حکومت لپاره هڅه کوي چې وکړی شي ژر تر ژره د یوه دایمي حکومت لپاره زمینه برابره کړي او په هغه کې به ټول اړخونه سیاسي مشارکت ولري. د اصولنامې په متن کې راغلي: «موږ هوکړه کوو چې په پوره چټکتیا د یوه سیاسي مشارکت د رامنځ ته کولو لپاره چې په هغه کې به د ټولو اړخونو لپاره د منلو وړ انتقالي اداره د یوې معینې دورې لپاره شامله وي او نوی حکومت باید د دې سبب شي چې په هېواد کې روانه جګړه او منازعه ختمه کړي.»

په دې سند کې دغه راز ټینګار شوی دی چې ټول اړخونه به په افغانستان کې د بشر حقونو ته درناوی کوي، د پرمختګ لپاره به کار کوي، د بشري مرستو لپاره به له نړیوالو موسسو سره همکاري کوي او دوی ته به د فعالیت زمینه برابروي. د اقلیتونو په تېره د مېرمنو حقوق به خوندي کېږي او د سیاسي مشارکت له لارې به د یوه پیاوړي حکومت د جوړولو لپاره هڅه کېږي. د دې سند یوه بله مهمه برخه له ګاونډیو او نړیوالو سره د افغانستان اړیکې دي. د اصولنامې له مخې دواړه لوري باید ژمن وي چې له ګاونډیانو او د سیمې له هېوادونو سره ښې اړیکې پالي او تر څنګ یې له نړیوالو سره هم د ښو اړیکو د جوړولو لپاره هڅه کوي. بلخوا د دې سند پر بنسټ طالبان او افغان حکومت باید ژمن وي، چې له افغان خاورې به هېڅ بهرني هېواد ته خطر نه متوجه کېږي او تر څنګ یې افغانستان هېچا ته اجازه نه ورکوي، چې دا خاوره د بل هېواد پر وړاندې وکاروي.

د تازه خپرې شوې اصولنامې په اړه تر اوسه طالبانو او یا هم افغان حکومت غبرګون نه دی ښودلی، خو ویل کېږي چې دغه اصولنامه د ترکیې، قطر، ملګرو ملتونو او امریکا له لوري جوړه شوې او له افغان حکومت او طالبانو سره هم شریکه شوې ده. سره له دې چې حکومت د امریکا پر وروستیو اقداماتو غبرګون نه ښیي، خو تازه ولسمشر غني په خپلو څرګندونو کې ټینګار کړی چې د سولې لپاره جامع او واضح طرحه لري. هغه د کوهدامن خلکو ته د وینا پر مهال ویلي، چې له بهره د طرحو د راتګ لړۍ روانه ده؛ خو افغان حکومت هم لاس تر زنې نه دی ناست او خپلې طرحې لري. هغه یو ځل بیا پر افغانانو غږ کړی چې ببېره دې نه کوي او افغان حکومت به په پوره احتیاط افغانستان له روانې پردۍ جګړې خلاصوي.


د افغانستان اسلامي جمهوریت سفارت
دوحه - قطر
EMBASSY of THE ISLAMIC REPUBLIC of AFGHANISTAN
Doha - Qatar
سفارت جمهوری اسلامی افغانستان
دوحه - قطر

شماره: ۱۰۹
تاریخ: ۱۴۰۰/۰۱/۱۸
درجه اهمیت: عاجل و مهم
تقدیم به مقام: مقام محترم وزارت امور خارجه
گزارش دهنده: سفارت جمهوری اسلامی افغانستان در دوحه
موضوع: اصول ۹ ماده (قطر، آمریکا، ترکیه، سازمان ملل) و دیدگاه هیئت افغانستان
ضمایم: ندارد

به مقام محترم وزارت امور خارجه،
قابل توجه ریاست محترم دوم سیاسی،

طوری که در جریان قرار دارند، قبل از برگزاری نشست احتمالی استانبول در ۱۶ اپریل مطابق ۲۷ حمل، هیئت های آمریکا، ترکیه، ملل متحد به شمول نماینده قطر در امور افغانستان جهت تسریع روند گفتگوها اقدامات را در دوحه با هر دو هیئت (جمهویت و طالبان) روی دست گرفتند که در نتیجه آن، سه طرف(ترکیه، قطر، ملل متحد) به عنون تسهیل کنندگان بیرون از اتاق، پذیرفت شدند.
یکشنبه مورخ ۱۴۰۰/۱/۱۵، هیئت های چهار گانه پیشنویس (اصول مشترک) ۹ ماده ای را برای هر دو هیئت تسلیم داده تا دیدگاه و نظریات شان را پیرامون پیشنویس مذکور ارائه نمایند.
باید گفت که هدف از این پیشنویس آمادگی های لازم هر دو هیئت جهت رسیدن به توافق روی برخی موارد مهم گفتگوهای صلح قبل از برگزاری نشست استانبول می باشد.

اصول مشترک ۹ ماده ای شامل چه موارد هستند؟

۱- تمام افغان ها از موجودیت چندین منازعه رنج برده اند، ما درخواست مخلصانه آن ها را جهت پایان دادن به جنگ احترام گذاشته و متعهد به پذیرش تقاضای آن ها جهت یک افغانستان صلح آمیز از طریق مشارکت سیاسی و آتش بس دائمی و فراگیری هستیم؛
۲- دو طرف موافق هستند تا کارهای مشترک را بدون اتهام متقابل، با یک روحیه مسالمت جهت دستیابی به هدف مشترک، متحد، صلح آمیز، با ثبات، مستقل، اسلامی و نمایندگان افغانستان هستند؛
۳- اسلام دین رسمی افغانستان و منبع وحدت ملی می باشد. مشارکت سیاسی در همخوانی با اصول اسلامی تحقق خواهد یافت؛
٤- ما به یک حکومت مشارکتی، نماینده، فراگیر، قابل قبول و پاسخگو در برابر مردم افغانستان که در چارجوب یک قانون اساسی مدون عمل نمایند متعهد هستیم. ما توافق می نمایم که به سرعت

صفحه ۱ از ۲


جهت دستیابی به یک مشارکت سیاسی که شامل یک اداره انتقالی قابل قبول متقابل برای یک دوره معین که بتواند منجر به حکومت جدید دائمی و پایان قطعی منازعه گردد اقدام نماییم.
۵- تنوع گسترده افغانستان، یک منبع قوت و افتخار برای مردم این کشور می باشد. تمام ترتیبات سیاسی آینده ضروریست که بازتاب دهنده این تنوع از طریق تضمین حقوق مساوی برای همه شهروندان بدون هر گونه تبعیض باشد. زنان باید شریک مساوی در تمام زمینه های زندگی بوده و حقوق شان در چارچوب ارزش های اسلامی و در همخوانی با مکلفیت های بین المللی افغانستان حفاظت و حمایت خواهد شد.
٦- ما متعد به حمایت از حقوق بشری تمام افغان ها هستیم. ما به موجودیت میلیون ها قربانی در همه طرف ها اذعان نموده و به صورت فعالانه برای التیام بخشیدن به زخم های که در نتیجه جنگ به وقوع پیوسته است جهت دستیابی به یک همزیستی واقعی تلاش به خرج میدهیم.
۷- حکومت آینده، برنامه های توسعه ای اقتصادی اجتماعی متوازن به خاطر نجات مردم از فقر تا بتوانند در یک صلح با عزت زندگی نمایند،روی دست می گیرد. افغانستان همکاری و مشارکت با کمک کنندگان بین المللی را به منظور توسعه کشور ادامه خواهد داد. کارمندان بشردوستانه اجازه داده خواهدشد تا به تمام جامعه افغانستان همکاری و مساعدت نمایند؛
۸- افغانستان روابط دوستانه را با همسایگان، کشور های منطقه و فراتر از جامعه بین المللی ایجاد می نماید. ما تعهد می نمایم این تضمین را بدهیم که افغانستان تبدیل به منبع تهدید برای کشور های دیگر نگردیده و اجازه نخواهد داد که فرد و یا گروه دیگر از خاک افغانستان کشور های دیگری را تهدید نه نموده و در عین حال افغانستان را در مقابل مداخله بیرونی محافظت می نمایم.
۹- ما به یک روند گفتگو و مذاکره صلح آمیز به منظور تطبیق این اصول در راستای دستیابی به سیستم عبوری و در نهایت ایجاد یک ساختار سیاسی دائمی در فضای بدور از خشونت و احترام متقابل تعهد. هیئت محترم مذاکره کننده جمهوری اسلامی افغانستان بعد از غور و بررسی دیروز دیدگاه و نظریات خویش را پیرامون اصول مشترک به هیئت های ٤ گانه تسلیم نمودند که شامل موارد ذیل می باشد:
✓ دین مبین اسلام، تاریخ و عنعنات مردم اساس وحدت ملی افغانستان است؛
✓ کشور های منطقه و همسایه، از ورود جنگجویان خارجی به افغانستان باید جلوگیری نمایند؛
✓ سرنوشت و آینده سیاسی افغانستان را باید انتخابات آزاد و شفاف تضمین می نماید؛
✓ هر گاه که در افغانستان صلح به میان آمده بعد از مدت کوتاه جنگ های داخلی آغاز گردید ه. پس لازم است برای جلوگیری از تکرار آن، تضمین وجود داشته باشد؛
*گروه طالبان از مشارکت شان در نشست استانبول در اصول اعلام موافقت نموده و پیرامون (کاهش خشونت ۹۰ روزه و ارائه دیدگاه، اصول مشترک) دو روز دیگر از هیئت های ٤ گانه(ترکیه، قطر، آمریکا ملل متحد) ٤٨ ساعت فرصت اضافی نموده اند.*
*موضوع جهت مزید معلومات نگاشته شد.*

با احترام
عظیم الله ویسی
شارژدافیر

کاپی: ۱- دفتر معینیت محترم سیاسی، ۲- ریاست عمومی دفتر مقام محترم وزارت،

صفحه ۲ از ۲

# ایران: د نطنز په اټومي تاسیساتو کې الکترونیکي ستونزې پیدا شوې دي




د ایران تر ټولو د خوندي اټومي تاسیساتو نطنز، د برېښنا د وېش شبکې په یوه برخه کې دا تازه پېښه داسې مهال کېږي، چې ایران ورمه ورځ په دغو اټومي تاسیساتو کې د پرمختللو سنټرفیوژونو د لګولو اعلان وکړ.

د ایران د اټومي انرژۍ د ادارې ویاند بهروز کمالوندي وایي، وروستۍ پېښې مرګ ژوبله نه ده اړولې، نه یې هم هوا ککړه کړې؛ خو زیاته کړې یې ده چې د نطنز د تاسیساتو د برېښنا شبکه یې اغېزمنه کړې ده.

تېر لمریز کال د نطنز په اټومي تاسیساتو کې اور لګېدلی و، چې حکومت هغه پېښه د ایران د اټومي پروګرام د شنډولو هڅه بللې وه.

هغه اورلګېدنه چې چاودنه هم ورسره مله وه، د دې سبب شوه چې ایران په دغو تاسیساتو کې د پرمختللو سنټرفیوژونو پر لګولو غور وکړي.

د نطنز په نوم اټومي تاسیسات چې تر ځمکې لاندې دي، د ایران د یورانیمو د پخولو یا غني کولو د پروګرام مهم ځای ګڼل کېږي، چې د نړیوالې اټومي انرژۍ د ادارې څارونکو پرې څارنه هم کړې ده.

پر دغو تاسیساتو د دې پېښې او نورو حملو شک پر اسراییلو کېږي، چې د ایران سیمه ییز حریف ګڼل کېږي، خو اسراییلو په وار وار دا تورونه رد کړي دي.

تهران په ورته وخت کې په تېره نومبر میاشت کې د یوه ایراني ساینسپوه محسن فخریزاده مهابادي په وژنه کې هم اسراییل دخیل بللي، چې دغه ساینسپوه لسیزې مخکې د ایران پوځي اټومي پروګرام پیل کړی و.

که څه هم اسراییلو تر اوسه د یادو حملو مسوولیت نه دی منلی، خو د دغه هیواد ولسمشر بنیامین نتانیاهو په دې وروستیو کې په وار وار ایران د خپل هېواد لپاره یو ګواښ بللی دی.

د نطنز په اټومي تاسیساتو کې تازه پېښه داسې وخت کېږي چې د ۲۰۱۵ کال د اټومي تړون د بیا برحاله کېدو لپاره د تهران او نړۍ د پیاوړو هېوادونو تر منځ تازه هڅې پیل شوې دي.


د امریکا پخواني ولسمشر ډونالډ ټرمپ په ۲۰۱۸ کال کې له دغه تړونه د واشنګټن د وتلو او پر ایران بېرته د سختو بندیزونو لګولو اعلان وکړ او په بدل کې یې ایران له ډېرو هغو محدودیتونو چې په تړون کې ورته ټاکل شوي وو، سرغړونه پیل کړه چې د یورانیمو د زېرمه کولو لپاره د ټاکل شویو حدودو ماتول هم پکې راځي.

## د کتـــاب خبـرې

# د جاسوسی پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او اډېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### پنځمه برخه
### حساسې شېبې




دوراني: د (۲۰۱۱. ز) کال د مې په دویمه نېټه له BBC څخه ماته ټلیفون وشو. زه د افغانستان اړوند مسایلو په دویم دور (Track-II) لوړو کچو ناستو کې په ابوظبي کې وم.ټلیفون د اسامه بن لادن د ځانګړې پروګرام په هکله و، چې یوه شپه مخکې وژل شوی و. ما ته ډېر معلومات نه وو، خو دا چې ما څو کاله مخکې ویلي وو چې اسامه په قبایلي سیمو کې نشي اوسېدای او هغه په یو لوی ښار کې دی، نو ځکه یې زه دغه پروګرام ته وروبللم. دا چې زما انګېرنه سمه وه، ځکه خو دوی فکر کولو چې کېدای شي ما ته د هغه په اړه نور معلومات هم وي.

دا ارزونه ممکنه نه وه، چې اسامه بن لادن به په قبایلي سیمو کې پټ شوی وي. دا ماته مهمه نه وه چې هغه چېرې دی. دوی راته وویل چې دا د HardTalk خپروني ځانګړې ګڼه ده او لکه پخوا، له یوه کس سره مخامخ نه ده، بلکې د برېټانیا پخواني پوځي مشر مایکل جیکسون او کېدای شي د بهرنیو چارو پخواني وزیر ډېوېډ میلیبنډ هم را مېلمانه کړو. دوی داسې انګېرله چې زه به له پاکستان څخه دفاع کوم.

په سټډیو کې میلیبنډ نه و. په ځای یې د ملي امنیت د سلاکار (NSA) معاون له امریکې څخه راغلی و. ما وویل زه نه پوهېږم، خو فکر کوم چې پاکستان پکې مرسته کړې ده. د هغوی له مرستې پرته به دا عملیات ډېر ګواښمن وي. دا ګواښ ډېر جدي و، د هغوی له پام کې نیولو پرته کېدای شوای، زموږ همکاري بې ځایه قرباني شوې وای.

نو دا ګټه ولې نه ده ترلاسه شوې؟ له سیاسي لحاظه، ما وویل په پاکستان کې به دا موږ ته ښه تمامه نشي چې موږ له امریکا سره د هغه کس په نیولو کې مرسته کړې ده، کوم چې ډېری پاکستانیانو ته «اتل» ښکاري.

زما په دې خبره چا غبرګون ښکاره نه کړ. دوه کاله وروسته ما په بل ځای کې هم احتمالاً همدا خبره تکرار کړه، خو دا وخت نړۍ له یوه نوي ګواښ سره چې ټولنیزې رسنۍ وې، مخ وه. ما په اکسفورډ کې د الجزیرې له لارې (۴۰۰) اورېدونکو ته خپله ارزونه داسې اوروله، چې پاکستان د اسامه په نیولو کې همکاري کړې ده، له هماغه تالار نه (۴۰۰) پیغامونه لیکل شوي وو، چې زما خبرې یې تحریف کړې وې. دوی ویلي وو: «د ISI پخواني مشر اسد دوراني وایي چې پاکستان اسامه بن لادن پټ کړی و.» ما دا نه وو ویلي. ما ویلي وو چې موږ په یوه مرحله کې کېدای شي خبر شوي وو او له هغې وروسته مو داسې مرسته کړې وي، چې امتیاز یې ټول دوی ته ورکړل شوی وي.

سیمور هرش چې ما څو ځلې لیدلی او له هغه سره په اړیکه کې وم، ماته ټلیفون وکړ. زه بیا هم د دویم دور (Track-II) ناستو لپاره له هېواده بهر وم. هغه وویل زه داسې اسناد لرم، چې پاکستان له امریکا سره مرسته کړې ده، خو دلته داسې څوک نشته چې هغه واخلي. موږ دواړه څنګه په ګډه یو څه کولای شو؟ ما ورته وویل هیله ده هر څه دې چې لیکلي ماته یې راولېږه، زه به خپل نظریات درولېږم. هغه همداسې وکړل.

د امریکا کنټرول په رسنیو او په دې خبرونو حیرانوونکی و. هرش یو نامتو، دروند او پېژندل شوی څېړنیز ژورنالیست دی. هغه د ویتنام او ابوغریب په هکله کتابونه لیکلي چې د هغې لارې هم د ډاډ وړ کس ښکاري. خو په واشنګټن کې د اسامه په هکله د ده راپور ته هېچا پاملرنه ونکړه.

د اسامه بن لادن د وژل کېدو په هکله څو نورې څېړنې د هرش، ګاریت پورتر، یوه پاکستاني متقاعد ډګروال شوکت قادر او یوه بل متقاعد ډګروال چې اوس په کاناډا کې اوسي، له خوا هم ترسره شوې دي.ټولو د همکارۍ په هکله یوه ټکي ته نغوته کړې ده. د پاکستان په حق کې یې د بې کفایتۍ تور په دې عملیاتو کې د برخې درلودو په پرتله د منلو وړ و.ګني څنګه دا ممکنه وه چې امریکایي چورلکه (۱۵۰) کیلومتره د هېواد دننه ورشي؟

وروستی ټکی چې د هند لپاره مهم و، هغه دا و چې امریکا د پاکستان او نورو هغو ته چې په دې عملیاتو کې یې ورسره مرسته کړې ده؛ امتیاز ورنکړي.

دا کومه نوې خبره نه ده. دا هر وخت همداسې ده. د (۱۹۶۰) مې لسیزې په وروستیو کې کله چې ایوب خان ولسمشر و، کینیډي ورته ویلي وو: «که چېرې له امریکا سره په تبت او شرقي پاکستان کې د تأسیساتو په جوړولو کې مرسته وکړې، چې چین ته لنډ دي، دوی به د کشمیر په هکله له تاسره یو څه وکړي.» دا ټکی بروس ریډل مستند کړی و، چې په هېڅ مانا د پاکستان پلوی نه دی.

وروسته ایوب خان ناڅاپه ورسره ومنله، خو امریکا خپل مسؤلیتونه پر ځای نه کړل. له افغانستان وروسته، له اسامه وروسته او داسې نورې ډېرې پېښې شته چې دوی پکې خپل تعهدات نه دي پر ځای کړي. دا د دوی په DNA کې ده او دوی یې هم مني. کله چې د همکارۍ د امتیاز ورکول وي، دوی وایي: ترې تېرېدل ښه دي.

له اسامه وروسته، څلور-پنځه میاشتې د پاکستان او امریکا په اړیکو کې ځانګړې بده دوره وه. موږ په (۲۰۱۲. ز) کال کې یو څه نورمال حالت ته هڅې وکړې، خو هر څه ختم نشول. په افغانستان کې د ستونزو له وجې په سیمه د دوی نیوکو دوام درلود.

دوام لري...

# وال مارت

حشمت الله نوري




وال مارت د خوراکي او نورو توکو تر ټولو ستر شرکت دی. یاد شرکت په نړۍ کې د پلورنځیو او سوپر مارکېټونو تر ټولو ستره سره تړلې شبکه لري. دا شرکت په نړۍ کې له رویال داچ او اکسان موبیل وروسته د نړۍ تر ټولو ستر شرکت دی. په نړۍ کې له مالي اړخه د نړۍ تر ټولو د ډېرې ګټې وټې مالک شرکت دی.

د دې شرکت مالک سام والتون دی، هغه په ۱۹۱۸ کال کې د اکلاهام په کینګفیشر کې زېږېدلی دی. تر پنځه کلنۍ پورې یې له خپله پلار سره په مزرعه کې په کرکېله بوخت و، وروسته یې د اقتصادي ستونزو له مله کرکېله پرېښوده، د خپلې کورنۍ له ټولو غړو سره یې دا پرېکړه وکړه چې څمکه به پلوري او پر ځای به یې سوداګري پیل کوي. هغه همداسې وکړل، په ۱۹٦۲ کال کې یې د امریکا په ګوټ ګوټ کې په سوداګرۍ پیل وکړ. ده او ورور یې باد ولتون په همدې کال کې د امریکا په آرکانزاس کې یو کوچنی او دودیز دوکان پرانیست. وروسته یې له همدې ځایه خپل کاروبار ته وده ورکړه. دغه شرکت په ۲۰۱۱ کال کې د نړۍ تر ټولو ستر عمومي شرکت دی، دوی د نړۍ په ۵۰۰ غوره شرکتونو کې چې د پلورنځیو او خوراکي توکو د پلور لپاره کار کوي، لومړی مقام لري. همدارنګه دا په نړۍ کې تر ټولو ستر د عامه خدماتو شرکت دی، چې تر دوو میلیونو ډېر کارکوونکي لري.

اوس هم د والمارت ملکیت د والتون له کورنۍ سره دی او د یاد شرکت د ۴۸ سلنه سهام ملکیت لري. وال مارت شرکت په نړۍ کې ۸۵۰۰ څانګې لري، یادې څانګې د نړۍ په ۱۵ هېوادونو کې فعالې دي. یاد شرکت په همدې والمارت نامه د امریکا د متحده ایالاتو په پنځوسو ایالتونو کې فعالیت کوي. په مکزیک کې یې سوداګریز نوم والمکس دی، په برېتانیا کې اسدا، په جاپان کې سیو او په هند کې هم د بست پرایس په نوم فعالیت کوي. په برازیل، آرجنټاین او کاناډا کې هم په بېلو نومونو پانګونې او څانګې لري. سره له دې چې وال مارت په امریکا کې پېژندلی شوی نوم دی، خو دا شرکت په بېلو سوداګریزو برخو کې فعالیت کوي او نوم یې په نورو هېوادونو کې هم مشهور دی. په شمالي امریکا، برېتانیا، جنوبي امریکا، چین او نورو هېوادونو کې بریالی شرکت دی.

سام والتون په نړۍ کې په افسانوي پلورونکي شرکت مشهور دی، هغه په ۱۹٦۲ کال کې وال مارت جوړ کړ، مخکې مو هم یادونه وکړه چې د یوه کروندګر زوی و، پلار یې قرضداره و، کور یې وپلوره، ځمکه یې هم وپلورله او په کاروبار پسې ووت. والتون باوري و چې که کوچنی دوکان ولري، خو د هر چا د اړتیا وړ توکي پکې وي، مشتریان به دې ډېر شي او کار به دې بریالی شي. تاسې اوس هم چې کله وال مارت ته دې ننه شی، هر هغه شی چې غواړی پیدا کولی یې شی. هغه وایي، په کاروبار کې موسکا او نیک سلوک تر ټولو ښه اعلان دی، تاسې له خپل مشتري سره مرسته وکړئ، وخاندئ او په ځینو مسایلو کې وړې ټوکې ورسره وکړئ. هغه به ویل، تاسې که هر ځای یی، خو پام مو وي چې له یو بل سره په غیر مستقیمه توګه همکاران یی، نو د دې لپاره چې ټوله نړۍ په خوښۍ ژوند وکړي، ښه ده چې موسکا او له یو بل سره کمک هېر نه کړئ.

نوموړي یو کتاب هم لیکلی چې مېډ این امریکا نومېږي. والتون په دې کتاب کې خپل ټول باورونه او تګلارې روښانه لیکلي دي. په ۱۹۹۲ کال کې ومړ او پر ځای یې د هغه زوی رابسون والتون د شرکت مشر وټاکل شو. رابسون له کلمبیا پوهنتون د حقوقو په برخه کې دکتورا اخیستې وه او په ۱۹٦۹ کال کې له وال مارت سره یو ځای شوی و. لی اسکات هم د دې کمپنۍ بل پیاوړی مدیر دی چې ورځ تر بلې د خپل شرکت د ودې او پرمختګ لپاره کار کوي. اسکات د پټسبرګ له پوهنتون فارغ دی او د سوداګرۍ په برخه کې ښه تجربه لري.

وال مارت شرکت په ۱۹٦۲ کال کې رسماً خپل فعالیت پیل کړی دی، خو مخکې له دې چې رسمي فعالیت پیل کړي، کارونه یې د سام والتون او باد والتون لخوا پیل شوي وو. د ۱۹۴۰ کال په جون میاشت کې سام والتون خپل فعالیت د جي سي پي کمپنۍ یوې څانګې ته نېږدې په دس مونیز کې پیل کړ. والتون ۱۸ میاشتې په هغه ځای کې کار وکړ. په ۱۹۵۴ کال کې والتون د باتلر له ورونو سره معرفي شو، دوی د بن فرانکلین په نامه د زنجیري کمپنیو مالکان وو، د دوی په وړاندیز یې په آرکانزاس ښار کې د همدې کمپنۍ یوه څانګه پرانیسته. په وروستیو کلونو کې والتون ډېره ګټه وکړه، هغه بریالی شو چې خپله سرمایه څو برابره کړي، خو وروسته د پلورنځي څښتن خپل قرارداد نوی نه کړ او والتون اړ شو چې خپل کارځای پرېږدي او بل ځای ته ولاړ شي.

په ۱۹۵۰ کال کې والتون په بنتون کې ویل چې د والتونز ۱۰ او پنځه په نامه پلورنځی یې پرانیست، نوموړي په دې پلورنځي کې له یوې نوې ستراتیژۍ کار واخیست، هغه په دې توګه د تخفیف کچه لوړه کړه، په دې توګه د پلور کچه هم لوړه شوه او مشتریان ډېر ورته رامات شول. د ۱۹٦۲ کال په جون کې والتون پر دې بریالی شو چې ۱۱ نور پلورنځي هم پرانیزي. هغه خپل پلورنځي په وال مارت ونومول او په دې توګه نو یو کروندګر پر دې بریالی شو، چې ډېر پلورنځي پرانیزي.

هغه په وروستیو پنځو کلونو کې ۲۴ پلورنځي پرانیستل، خپلو پلورنځیو ته یې په آرکنزاس ایالت کې پراختیا ورکړه او پانګه یې ۱۲،٦ میلیونو ډالرو ته ورسېده. په ۱۹٦۰ کال کې وال مارت په چټکۍ د پراختیا په حال کې و، وړو وړو ښارونو ته یې هم د فعالیت لمن پراخه شوه، تر دې چې په ۱۹۷۰ کال کې یې د پلورنځیو شمېر ۳۸ او د کارکوونکو شمېر یې ۱۵۰۰ ته ورسېد. کلنی پلور یې هم په هغه وخت کې ۴۴،۲ میلیونه ډالره و. په ۱۹۸۰ کال کې یاد شرکت تر دې هم پراخ شو، د پلورنځیو شمېر یې ۱۱۹۸ ته ورسېد او د کلني پلور کچه یې ۱۵.۹ میلیاردو ډالرو ته لوړه شوه. په دې وخت کې نو ۲۰۰ زرو کسانو کار ورسره کاوه.

په همدې کال کې دې شرکت په سپوږمکیو باندې ۲۴ میلیونه ډالره پانګونه وکړه. دوی په دې توګه د خپلو کمپنیو ټولې څانګې د یو طرفه ویډیویي اړیکې له لارې سره وتړلې. په هغه وخت کې نو دا د نړۍ تر ټولو ستره خصوصي د سپوږمکۍ شبکه وه. په دې توګه نو مرکزي دفتر په دې قادر و چې خپلې کمپنۍ کنټرول او د خلکو اړتیاوې په ګوته کړي.

په ۱۹۸۹ کال کې وال مارت په ۲٦ ایالتونو کې فعالیت درلود، دوی د خپلې اصلي څانګې تر څنګ د توکو یو ستر نندارتون هم جوړ کړ. په ۱۹۹۱ کال کې یې په مکسیکو کې لومړنۍ څانګه پرانیسته او په دې توګه یې نو په نړیوالو بازارنو کې ګام کېښود. په ۱۹۹۵ کال کې یې په ارجنټاین او برازیل کې هم څانګې پرانیستلې. وروسته وال مارت بریتانیا ته ننوت او د ۱۰ میلیونو ډالرو په ارزښت یې ایسدا کمپنۍ واخیسته او هلته یې خپل محصولات بازار ته وړاندې کړل.

سام والتون په ۱۹۹۲ کال کې په آرکانزاس کې ومړ او لوی زوی یې رابسون والتون مدیره هیت وټاکل شو. وروسته یې نړیوالې څانګې پرانیستې او بابي مارتین د شرکت عمومي مدیر وټاکل شو. دغې شرکت په ۱۹۹۷ کال کې د لومړي ځل لپاره د سلو میلیاردو ډالرو پلور تجربه کړ، چې د چین له پلورنځیو سره یو ځای یې بیا پلور ۱۱۸ میلیاردو ډالرو ته ورسېد.

په ۱۹۹۸ کال کې یې وال مارت ټلویزیوني شبکه جوړ کړه، نوم یې هم وال مارت و، دوی میوزیکونه خپرول، سوداګریزې خبریاتوې یې خپرولې، فلمونه به یې خپرول او دې شبکې د ۲۰۰۵ کال د احصاصې له مخې، په میاشت کې ۱۳۰ میلیونه کتونکي لرل.

په ۲۰۰۰ کال کې لی اسکات د وال مارت د عامل مدیر په توګه معرفي شو، په دې وخت کې د پرچون پلور په برخه کې وال مارت د نړۍ په پنځوسو غوره کمپنیو کې لومړی مقام خپل کړ. په ۲۰۰۵ کال کې وال مارت پر ٦۲۰۰ قلمه موادو باندې پانګونه کړې وه، دوی ۳۸۰۰ پلورنځي لرل، دوی په دې وخت کې ۱،٦ میلیونه کارکوونکي لرل، د پلور کچه یې هم ۳۱۲ میلیاردو ډالرو ته لوړه شوې وه. دوی په کاترینا کې د طوفان له امله له زیانمنو سره ۱۸ میلیونه ډالره مرسته وکړه. په ۲۰۰٦ کال کې له المان په بشپړه توګه ووتل او خپل ۸۵ پلورنځي یې په مترو ډله باندې وپلورل.

وال مارت دمګړۍ د انساني نیرو له اړخه د نړۍ تر ټولو ستر شرکت دی، ۲،۲ میلیونه کسان کار ورسره کوي او دمګړۍ یې ٦۲۰۰ پلورنځي د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې فعال دي. په وال مارت کې کار په ساعتي بڼه دی او تر ټولو ښه کاري فرصتونه پکې برابرېږي. په دې شرکت کې ۸۱۵ زره ښځې هم کار کوي، د پلورنځیو تر څنګ معاینه خانې لري او د خپلو مشتریانو دربیمه برخه روغتیایي لګښت هلته پرېکوي. په امریکا کې د وال مارت په څانګو کې ۳۷۵ زره غیر امریکایان هم کار کوي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,٦ |
| € | ۹۲ |
| Rp. | ٤۹۹ |
| ₹ | ۱۰٦٥ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰٥,۱ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زیږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# پر خلکو مهربانه اوسېدل ځانګړی حس لري

ژباړه: حمیدالله حمیدي

مهربانه اوسه!!! ځکه د هر هغه انسان په ژوند کې چې لیدنه او خبرې ورسره کوې، یوه شخړه روانه ده او هرو مرو هغه له سلګونو ستونزو سره لاس او ګرېوان وي. اړینه نه ده چې مقابل لورې په کوم موقف او د شتمنۍ په کومه سطحه کې دی. هر هغه څوک چې د ځمکې پر مخ یې وینې، سلګونه ستونزې لري او ستاسو له لوري مهربانۍ او منل کېدو ته اړتیا لري.

ان کله چې د خپل ژوند تر ټولو سختې ورځې تېروی، په یاد مو وي چې نور هم ورته ستونزې، ځور، سختۍ، ناراحتۍ، ناهیلۍ او بېوزلي تجربه کوي. دغه ډول یو کار په هېڅ صورت سره ستاسو احساسات کم ارزښته نه ښکاروي، بلکې د دې لامل کېږي څو پوه شې چې د خلکو چلند ډېر کله د هغه زیان، ځور او درد پر اساس دی چې د زغملو په حال کې یې دي، نه د هغوی له وجودي تمامیت څخه سرچینه اخیستونکی. همدا مهرباني ده چې له منفي عواطفو څخه د تېرېدو او د انسانانو له دروني حقیقت سره د اړیکې جوړولو کلۍ ګڼل کېږي.

د نورو لپاره د مهربانۍ کولو تر ټولو غوره ډالۍ دا ده چې کله له هغوی سره یو، باید له هغوی سره اوسو. یانې خبرو ته یې په غور سره غوږ ونیسو او توجه ورته ولرو. پر خپلو ورځنیو پلانونو او پروګرامونو باندې بیا کتنه وکړئ او له دې چې داسې یو شخص ښکاره شي، چې تل د بیړې او منډې په حال کې یاست، لاس واخلئ. په اوس کې حضور درلودل، په لاسرسي کې د اوسېدو په مانا دي او دا یوازې هغه مهال امکان لري چې د بیړې او په چټکۍ سره د کارونو د تر سره کولو په حال کې نه وی.

**خوشبینه اوسئ**

د خوش بینۍ او مثبت فکر لرلو حس د ژوند په ټولو اړخونو کې د پام وړ رول لوبوي. هغه خوند او قدر پېژندنه چې د مهربانۍ په ذات کې ده، تاسو ته د دې امکان درکوي څو د نورو خلکو او نړۍ ښېګڼې ووینۍ. تاسو ته د دې توان درکوي څو د هغو ستونزو، ناهیلیو او بې رحمیو له منځه چې وینې او تجربه کوی یې، بریالي را ووځۍ او انسانیت ته خپل باور په دوامداره توګه بیا نوی او جوړ کړی. د مثبت لیدلوري ساتل د دې لامل کېږي څو له مهربانۍ ډک کارونه د هغوی په اصلي او خوند ښښونکې بڼه تر سره شي، همدارنګه شوخ طبعي د دې سبب کېږي څو خپل ځان له حده زیات جدي ونه نیسی او د ژوند له مخالفو او متضادو شېبو سره په پیاوړي ایمان او مثبت باور سره مخ شی.

د مثبت لیدلوري لرل تل اسانه کار نه دی، په ځانګړې توګه که مو یوه خرابه او له سترپاوو ډکه ورځ تېره کړې وي؛ خو هر څوک د پوره تمرین، د منفي ټکو پر ځای پر مثبتو هغو د تمرکز، په ژوند کې د راتلونکو هغو مثبتو پېښو په اړه د فکر کولو له لارې چې خوښی یې له غمونو زیاتې وي، کولای شي خپل مثبت فکر او لیدلوری لرل لا ډېر پیاوړي او تقویه کړي. جالبه خو دا ده چې د ژوند د روښانه او مثبتو اړخونو لیدل، ان یوه افغانۍ هم لګښت نه لري.

خوشبین اوسېدل او د مثبت فکر او لیدلوري ساتل نه یوازې د مهربانۍ کولو لپاره ستاسو ذهنیت چمتو کوي، بلکې ستاسو د شاوخوا کسانو لپاره هم خوند او خوښي لرونکې ده. که چېرې خپل ډېر وخت پر ګیلو او شکایت کولو تېر کړی، خوښي درلودل به ستاسو او ستاسو د شاوخوا کسانو لپاره یو ستونزمن کار وي.

**دوستانه چلند وکړئ**

مهربانه انسانان له دوستانه چلند سره مینه او لېوالتیا لري. دوستانه چلند کول یې په دې مانا نه دي چې هغوی د ټولنې تر ټولو ټولنیز کسان دي، بلکې هغوی هڅه کوي چې نوي انسانان وپېژني او هغوی ته د راحتۍ احساس ورکړي. که د خپلو زده کړو او کار په چاپېریال کې نوي کسان وینی، کولای شی د خبرو کولو غوټه ورسره پرانیزئ، هغوی ته د شته چاپېریال د ځانګړنو او قوانینو په اړه ووایاست او ان خپلو ټولنیزو ناستو او ساتېریو ته یې را وبولئ. ان که ډېر هم ټولنیز انسان نه یاست، یوازې یوه مسکا او د یوې لنډې اړیکې ټینګول کولای شي دوستانه ښکاره شي. ستاسو دغه مهرباني به پټه پاتې نه شي.

هغه انسانان چې دوستانه چلند کوي، مهربانه دي؛ ځکه له نورو څخه هم د غوره چلند او نېکو اړیکو تمه لري. هغوی له نوو انسانانو او ملګرو سره په یو شان خبرې کوي، یو شان اړیکې ورسره ساتي او په داسې دوستانه او اطمینان ښښونکې طریقې سره وخت ورسره تېروي، چې د دې لامل کېږي څو نور یې په څنګ کې د راحتۍ او ارام احساس وکړي.

که په طبیعي ډول یو خجالتي انسان یاست، اړینه نه ده چې خپل ځان ته په بشپړه توګه بدلون ورکړی. له خلکو سره د مهربان اوسېدو لپاره کولای شی هغوی ته پاملرنه وکړئ، د حال او احوال پوښتنه یې وکړئ او داسې ښکاره کړی چې مینه او علاقه ورسره لری.

دلته د خپل یوه ملګري د مهربانۍ په اړه درته لیکم:

کله چې د خپلې دویمې ماسترۍ د اخیستلو لپاره د انګلستان هېواد مانچسټر ښار ته لاړم، لومړی ځل مې و چې دغه ښار ته راغلی وم او په بشپړه توګه نابلد وم. ما په لندن ښار کې ډېر ملګري درلودل او فکر مې کاوه چې په مانچسټر ښار کې به هېڅ ملګري ونه لرم. ما په هوټل کې خپله کوټه له کابل څخه د انټرنېټ له لارې ریزرف کړې وه څو چې د څو ورځو لپاره پکې پاتې شم او وروسته د اوسېدو لپاره یو مناسب ځای پیدا کړم. یوه شپه مې په خپل فېسبوک اکونټ کې له چېک ان کولو (چې زما موقعیت یې د مانچسټر ښار ښود) وروسته یو څه ولیکل. یوازې څو دقیقې وروسته مې خپل یوه پخواني ګاونډي چې ایرج نظامي نومېده، پیغام راته واستاوه. ایرج له روغبړ وروسته را څخه وپوښتل چې د مانچسټر ښار په کوم موقعیت کې یم او له څنګ پرته یې زما د ټلیفون شمېره وغوښته، ما هم خپله شمېره ورکړه او د اوسېدو پته مې ورته ولېږله. ایرج همغه دقیقه له ما سره اړیکه ونیوه او ټینګار یې وکړ چې همغه شپه مې خواته راځي. که څه هم زه د ایرج د راتللو پر زحمت راضي نه وم، خو بیا مې هم ومنله چې خواته مې راشي.

هغه راتلونکی سهار کله چې زه په سالفورډ پوهنتون کې وم، یو ځل بیا اړیکه ونیوه او د مازیګر څلور بجې مو یو له بل سره د لیدو ژمنه وکړه. ایرج مازیګر په څلورو بجو د پوهنتون په تمځای کې زما په تمه و. هغه مې له څو کلونو وروسته یو ځل بیا لید. له ایرج سره یې د میلاد نیازي په نوم یو نږدې ملګری هم و. موږ درې واړه په مانچسټر ښار کې له قدم وهلو وروسته د Rusholme په نوم سیمې ته چې د نړۍ د ډېری هېوادونو ښکلي رسټورانټونه پکې وو، لاړو.

د ډوډۍ له خوړلو وروسته ایرج له ما وغوښتل څو هرڅومره وخت چې وغواړم، کولای شم د هغه په کور کې پاتې شم. ما ترې منندوې وکړه او ورته ومې ویل چې په هوټل کې مې مخکې له مخکې خونه ریزرف کړې ده او د هغه له مهربانۍ ډکه سپارښتنه مې په همغه لومړیو کې رد کړه، خو ایرج ډېر ټینګار وکړ چې باید وړاندیز یې ومنم. ما هم له هغه سره له څو خبرو کولو او ډېر ټینګار وروسته د هغه وړاندیز ومانه. ایرج یو نسبتاً لوی کور درلود او یوازې یې هلته ژوند کاوه. زه د ډېرې مودې لپاره د ایرج په کور کې پاتې شوم او ایرج ان اجازه نه راکوله چې د یو بوتل اوبو پیسې هم ورکړم.

دا چې موږ په دې موده کې پر کومو مسایلو خبرې وکړې، دا چې څه مو وخوړل او یا ایرج کوم رنګې جامې اغوستې، هېڅ مې هم په یاد نه دي، خو دا چې ایرج له ما سره څومره په مهربانۍ چلند وکړ، هېڅکله به مې له یاده ونه وځي او تل غواړم چې د هغه دا مهرباني یو وخت په یو ډول سره جبران کړم.

## د چاپېریال ساتنې ملي اداره: ورځ تر بلې ګلخانه یي ګازونه زیاتېږي

د افغانستان د چاپیریال ساتنې ملي اداري د اقلیم د بدلون رییس روح الله امین د اقلیم د بدلون په اړه د دویم راپور له خپرېدو وروسته ازادي راډیو ته وویل، وړاندوینه کېږي چې تر ۲۰۳٥ کال پورې به د ۲۰۱۷ کال په پرتله، ګلخانه یي ګازونه ۲۱سلنه ډېر خپاره شي.

ښاغلي امین زیاته کړې: «د دغه راپور هدف دا دی چې د ګلخانه یي ګازونو خپرېدل د اقلیم د بدلون او نورو مواردو سره چې د اقلیم په بدلون پورې اړه لري، څنګه ځانګړې کړو؟ دغه راپور کولی شي د یو مهم راپور په توګه د راتلونکو اقداماتو په خاطر د ګلخانه یي ګازونو د خپرېدو او د پروژو د پلي کېدو لپاره ګټور تمام شي. سره له دې افغانستان د ګلخانه یي ګازونو په خپرېدو کې ډېره کمه ونډه لري، یانې زموږ د ګازو خپرېدل صفر اعشاریه صفر یو دی، خو بیا هم موږ د اقلیم له بدلون څخه ډېر زیان وینو او دا مسئله زموږ د اندېښنې لامل ده.»

د ښاغلي امین په خبره، که څه هم افغانستان صنعتي هېواد نه دی، خو د افغانستان درجه په وروستیو ۲٦۰ کلونو کې یانې د اروپا تر صنعتي انقلاب وروسته، د سانتې ګرېډ له مخې ۱.۸ درجې لوړه شوې ده.

د افغانستان د چاپیریال ساتنې ملي اداري مسوولین وایي، افغانستان د پاریس د هوکړې غړی دی چې له مخې یې مکلف دی، چې له ۲۰۲۰ کال څخه تر ۲۰۳۰ کال پورې د ګلخانه یي ګازونو خپرېدل ۱۳.٦ کم کړي.

بلخوا د چاپیریال ساتنې پوه عبدالولي مدقق په افغانستان کې د ګلخانه یي ګازونو خپرېدل د اندېښنې وړ ګڼي او حللاره یې داسې بیانوي: «د کار د حق په توګه یې د حللاره دا ده چې له صنعتي هېوادونو څخه نړیوالو حقونو ته په کتو، خپل حق وغواړي او هڅه وکړي چې له مرستندویو بنسټونو او هغو صنعتي هېوادونو نه چې کاربُن ازادوي، خپل حق واخلي او د شنو ساحو په رامنځته کولو او د اقلیم بدلون سره د مبارزې لپاره ترې کار واخلي.»

## د ټاکنو خپلواک کمېسیون: د ټاکنو لګښتونه ٥۰سلنه کمېږي

د افغانستان د ټاکنو خپلواک کمېسیون وایي، چې د ټاکنیزو اصلاحاتو پالیسي تدوین شوې، چې له مخې به یې د ټاکنو لګښتونه سم نیمایي راکم شي.

د دغه کمېسیون مرستیال مولانا عبدالله پرون رسنیو ته وویل، د یادې پالیسۍ لومړۍ برخه د ټاکنو د حقوقي چوکاټ د پراختیا په اړه ده، چې د ټاکنو په قانون کې هم شامله ده.

د افغانستان د ټاکنو خپلواک کمېسیون له دې وړاندې ویلي وو، چې د ټاکنو قانون د تعدیل طرحه بشپړه او عدلیې وزارت ته سپارل شوې ده.

ښاغلي عبدالله زیاته کړه چې د ټاکنیزو لوایحو، طرزالعملونو او لارښوونو بیا کتنه د دغې پالیسۍ د لومړۍ برخې نور موارد دي. په ټاکنو کې د شفافیت لپاره له ټکنالوژۍ څخه استفاده، د جوړښتونو اصلاحات، پلان جوړونه او د زیربناوو جوړول نور هغه څه دي، چې د ټاکنو د لګښتونو د راکمولو لپاره ورته د نوې پالیسۍ په نورو برخو کې ځای ورکړل شوی دی.

د ټاکنو کمېسیون مرستیال وایي: «د هېواد اقتصادي وضعیت ته په پاملرنې د ټاکنو لګښت ډېر دی، چې موږ د دې پالیسۍ په عملي کولو سره کولی شو چې د ټاکنو د تر سره کولو لګښتونه ٥۰سلنه راکم کړو.»

د ټاکنو کمېسیون د چارواکو په وینا، د ټاکنیزو اصلاحاتو د نوې پالیسۍ پر اساس د تېرو ټولو ټاکنو ستونزې تشخیص شوې او په راتلونکو ټاکنو کې به یې له تکرار څخه مخنیوی وشي. یاد کمېسیون زیاتوي چې د ولایتي شوراګانو، ښاروالیو او د غزنې د ولسي جرګې ټاکنو د تر سره کولو لپاره ټول چمتووالی نیول شوی دی.

د افغانستان د ټاکنو د خپلواک کمېسیون رییس اورنګ زیب وایي، چې دا ټول چمتووالی د ټاکنیزو اصلاحاتو د نوې پالیسۍ پر اساس نیول شوی دی.

هغه زیاته کړې: «د ټاکنو کمېسیون له تخنیکي، عملیاتي او پلان جوړونې له پلوه د ولایتي شوراګانو، د غزنې د ولسي جرګې او ښاروالیو ټاکنو د تر سره کولو لپاره چمتووالی لري.»

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲٥۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

WAYGAL
PRINTING CO
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
وایگل چاپ
WAYGAL Printing Co.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

دوشنبه د ۱۴۰۰ د وري ۲۳مه | د ۲۰۲۱ د اپریل ۱۲مه |۷۰۷مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۱ | ۲۹ | ۲۷ | ۲۶ | ۳۱ | ۱۷ |
| ۱۰ | ۱۳ | ۱۱ | ۱۰ | ۱۹ | ۹ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۰۰ | لمر ختل ۰۵:۲۷ | ماسپښین ۱۱:۵۵ | مازیگر ۰٤:۳۲ | ماښام ۰٦:۲۲ | ماخوستن ۰۷:٤٦

## نړۍ




## ایران: د نطنز په اټومي تاسیساتو کې الکترونیکي ستونزې پیدا شوې دي

۳

## ډومینیک:
## اوکراین کې د روسیې وروستۍ هڅې دغه هیواد بې ثباته کوي

د بریټانیا د بهرنیو چارو وزیر وایي، بریټانیا او متحده ایالات په اوکراین کې د روسیې د هڅو چې هغه بې ثباته کوونکي بللې، کلک مخالف دي.
ډومینیک راب وایي، په وروستیو کې له اخیستل شویو ویډیوگانو، تصویرونو او نورو اسنادو څخه ښکاري چې روسیې وسله والو ځواکونو د اوکراین د پولو پر لور یا د لاندې کړې د اوکراین کریمیا ټاپو وزمې ته ډېر خوځښتونه پیل کړي، چې ورسره دا اندېښنې چې گوندې مسکو به د اوکراین ختیځې برخې ته د ځواکونو د استولو لپاره تیاری نیسي، زیاتې شوې دي.
کریملین د ځواکونو د په شا کولو لپاره د لوېدیځ غوښتنې رد کړې او هم یې دا خبره چې دغو ځواکونو گواښ رامنځته کړی، رد کړې ده.
کریملین ویلي، د روسیې د خاورې دننه یې د ځواکونو خوځښتونه د ملي حاکمیت مسئله ده.
ښاغلی راب دغه څرگندونې یوه ورځ وروسته له هغې کوي چې د اوکراین ولسمشر ولادیمیر زیلینسکي د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان ته د وضعیت په اړه معلومات ورکړل.
د دواړو لورو له خبرو وروسته اردوغان سیمه کې وروستي پرمختگونه د اندېښنې وړ وبلل او هیله یې څرگنده کړه، چې دغه لانجه د خبرو له لارې او د اوکراین له ځمکنۍ بشپړتیا سره سمه له سوله ییزې لارې هواره شي.

## برما کې پوځیانو تر ۸۰ زیات مظاهره کوونکي وژلي



په میانمار یا پخوانۍ برما کې پر ډیموکراسۍ پلوه مظاهره کوونکو د وروستیو فشارونو په نتیجه کې د امنیتي ځواکونو لخوا تر ۸۰ زیات کسان وژل شوي دي. د جنوب- ختیځې اسیا دغه هېواد، د فبرورۍ میاشتې له لومړۍ نېټې تر پوځي کودتاه وروسته له کړکېچ سره لاس او گرېوان دی.
د کودتاه په نتیجه کې ملکي رهبره انگ سان سوچي له واکه لرې کړای شوه او دا کار په ملي سطحه د ناوتریخوالي سبب شو. راپوروونه وایي چې امنیتي ځواکونو په باگو ښار کې چې یانگون ښار ته څېرمه پروت دی، تازه پر مظاهره کوونکو ډزې کړې دي. د راپوروونو له مخې، دغه تازه پېښې تېره جمعه شوې، خو د مرگ ژوبلې ارقام یې ورمه ورځ خپاره شول.
له سیاسي بندیانو سره د مرستې انجمن چې یوه محلي څارونکې ډله ده ویلي، پر قدرت د پوځ لخوا د ولکې له ټینگولو وروسته امنیتي ځواکونو په ټوله کې لږ تر لږه ۷۰۱ کسان وژلي دي.
د امنیتي ځواکونو ځپونکي اقدامات د دې سبب شوي چې ځینې مظاهره کوونکي وسله وال شي، دوی له ښکاري وسلو او په کور کې له جوړو شویو اورشیندونکو بمونو کار اخلي.
په ورته وخت کې دغې وینې تویېدنې او بې ثباتۍ په میانمار کې پر نږدې شلو قومي وسله والو ډلو اغېز کړی دی.
دغه ډلې د میانمار پر ځینو سیمو، په ځانگړې ډول پر سرحدي سیمو کنټرول لري او له څو لسیزو راهیسې یې په وار وار د پوځ پر خلاف جگړې کړې دي.


## زاخیلوال: انتخابات زودهنگام درصورت استعفای رئیس‌جمهور ممکن است




شماری از اعضای حرکت نجات افغانستان نیز هشدار دادند که اگر نشست استانبول همه‌شمول نباشد، نتیجهٔ این نشست برای مردم پذیرفتنی نیست و مانند مذاکرات میان افغانان در قطر ناکام خواهد شد.
حضرت عمر زاخیلوال، رهبر حرکت نجات افغانستان، دیروز در مراسم گشایش نماینده‌گی این حزب در هرات گفت که انتخابات زودهنگام در صورت استعفای رئیس‌جمهور غنی ممکن است. آقای زاخیلوال، طرح صلح رئیس‌جمهور را مانع در برابر روند صلح خواند و رئیس‌جمهور را به خراب کاری روند صلح متهم ساخت.
او بیان افزود: «[انتخابات زودهنگام] را بهانه‌یی علیه صلح و سپوتاژ صلح می‌دانم. اگر این‌ها صادق باشند به این‌که واقعاً می‌خواهند به‌خاطر صلح انتخابات زودهنگام برگزار کنند لبیگ می‌گویم؛ اما مطابق قانون اساسی باید جناب ایشان [رئیس‌جمهور غنی] استعفا بدهد.» زاخیلوال تأکید کرد که حکومت به بهانهٔ دفاع از جمهوریت و قانون اساسی، در سال‌های پسین فرصت‌های صلح را ازبین برده‌است: «فرصت‌های صلح که در دونیم سال بوده و تنها کاری که حکومت انجام داده، پیش روی فرصت‌های صلح سنگ انداخته؛ گاهی به‌نام حفاظت از جمهوریت، گاهی به‌نام حفاظت از قانون اساسی، گاهی به‌نام این و گاهی به‌نام آن.» شماری از اعضای حرکت نجات افغانستان نیز هشدار دادند که اگر نشست استانبول همه‌شمول نباشد، نتیجهٔ این نشست برای مردم پذیرفتنی نیست و مانند مذاکرات میان افغانان در قطر ناکام خواهد شد. غلام فاروق وردک، رئیس شورای مرکزی حزب حرکت نجات افغانستان اظهار داشت: «از فرصت تاریخی که قرار است در نشست ترکیه نصیب ملت افغانستان گردد، باید از آن استفادهٔ اعظمی صورت بگیرد.»


## ژونــــد

## د ون‌پلس۹ لړۍ ځیرک موبایلونه معرفي شول




ون‌پلس کمپنۍ خپل له ۵جي ټکنالوژۍ څخه ملاتړ کوونکي او سامسُنگ او اپل کمپنۍ سره د رقابت وړتیا لرونکي ځیرک موبایلونه معرفي کړل. ون‌پلس کمپنۍ دې غونډه کې ون‌پلس۹، ون‌پلس۹ پرو، ون‌پلس۸ټي، ون‌پلس۸ټي پرو، ون‌پلس۸ او ون‌پلس۷ معرفي کړل. له دغو ځیرکو موبایلونو څخه د ون‌پلس۹ لړۍ تر دې دمه د ون‌پلس کمپنۍ تر ټولو غوره او غښتلي ځیرک موبایلونه دي. د ون‌پلس۹ لړۍ تر ټولو غوره ځانگړنه دا ده چې له ۵جي ټکنالوژۍ څخه ملاتړ کوي او ون‌پلس کمپنۍ ادعا کوي چې دغه لړۍ تر ټولو پیاوړې کامره لري. ون‌پلس۹ پرو شاتنۍ برخه کې څلور کامرې لري چې ۴۸ مېگاپکسله اصلي، ۵۰ مېگاپکسله الټراوایډ، ۸ مېگاپکسله ټېلي فوټو او یوه میني کامره پکې شاملې دي. د ون‌پلس۹ پرو بیه ۱۰۶۹ امریکایي ډالره ټاکل شوې ده. عادي ون‌پلس۹ بیا شاتنۍ برخه کې درې کامرې لري چې ۴۸ مېگاپکسله اصلي، ۵۰ مېگاپکسله الټراوایډ اینگل او یوه مونوکروم کامره هم لري. د دغه ځیرک موبایل بیه ۷۲۹ امریکایي ډالره ټاکل شوې ده.

## دغه خواړه د وینې فشار ثابت ساتي



لوړ فشار یوه عامه او ډېره زیانمنه ناروغي گڼل کېږي، ځکه چې دغه ناروغي د زړه ناروغۍ، دماغي سکتې، فلج، د سترگو کمزوري او نورې ستونزې زېږوي، چې د کنټرول لپاره یې د لږو کلیسټرولو او غوړ لرونکو خوړو تر څنگ باید درمل هم وکارول شي. د الرجل مجلې د یوې لیکنې له مخې، ډاکټرانو او د خوراکي توکو کارپوهانو د هغو خوړو د استعمال لارښوونه کړې، چې د لوړ فشار په برابر ساتلو کې مرسته کوي. د رومیانو جوس د لوړ فشار په کنټرولولو کې مرسته کوي، ځکه چې د رومیانو جوس د پوټاشیم یوه ښه منبع ده، چې د انسان د بدن اړتیا پوره کوي. مستې د خوراک یو غوره ډول دی چې د فشار په برابر ساتلو کې مرسته کوي، د مستو په جوړښت کې پوټاشیم، کلسیم او پروټین په لویه کچه وي، چې همدغه توکي هغه مالگینې اجزاوې خارجوي، چې د لوړ فشار سبب کېږي. دغه راز گازرې، هوږه، پالک، لوبیا او کېلې هم په دې برخه کې گټور تمامېږي.

## د میرمنو لپاره ځانگړی جاري حساب

عزیزي بانک خوښ دی چې تاسو ته د میرمنو جاري حساب درپېژني چې د افغانستان د درنو او قدرمنو میرمنو لپاره ځانگړی شوی محصول دی. میرمنې کولی شي په اې ټي ام او ماستر ډېبټ کارتونوکې د تخفیف له فیس سره په افغانیو او ډالرو کې پرانیزي. یاد حساب د ساتندویه او لنډ پیغام فیس پرته پرانېستلی شي. همدا راز د میرمنو حساب له ټیټ اړتیاوړ بیلانس سره یعنې 500 افغانیو او50 ډالرو سره پرانېستل کېږي چې میرمنو ته آسانه او ارزانه بانکوالی چمتو کوي.

عزیزی بانک
Azizi Bank
WOMEN'S
CURRENT ACCOUNT



www.azizibank.af 1515